د افغانستان دسولې او خپلواکۍ جبهې اعلامیه — تاریخ ۱۴/۱۱/۲۰۰۸

# دبهرنیو ځواکونو له لوري دکندهار دهوايي برید په اړه

یوځل بیا بهرنیو ائتلافي ځواکونو په وحشیانه هوايي برید سره چې دکندهار ولایت دشاولي کوټ په اولسوالۍ کې یې د واده پر مراسمو تر سره کړ ، دا په ډاګه کړه چې دا بمبارۍ سهوې نه بلکې قصدي عمل دی چې په وار وار ، په یوه بڼه او پر خاصو ځایونو کې ترسره کیږي .
په نږدې څو میاشتو کې له نورستان نه نیولې د ننګرهار ترهسکې مینې ، دهرات تر شینډنډه او بیا دتګاب پر بې وزلو خلکو ، دهلمند او وردکو او اوس دکندهار پر خلکو وحشیانه بمبارۍ چې په نتیجه کې یې په سلګونو بې وزله او غریب هیوادوال ووژل شول داخبره په ډاګه کوي چې په هیواد کې میشتې بهرنۍ قواوې افغانستان ته دبیا رغونې او سولې دراوستو لپاره نه ، بلکې دورانۍ ، وژنې او خپلو خاصو ګټو په موخه راغلې دي .
پر هیوادولو تپله شوې جګړه او دهغې په نتیجه کې د دکیدونکو هوايي بریدونو په نتیجه کې هرځل په لسګونو هیوادوال وژل کیږي او له هرې بمبارۍ وروسته دځیړنو او هیئتونو خبرې پیل شي خو له څه مودې وروسته بل هوائي برید او دهیوادوالو ډله ایزه وژنه وړاندنی وحشت تر خاورو لاندې کړي او بیا هماغه تکراري خبرې او وعدې پیل شي .



'WHO WILL BRING MY SON BACK TO ME?'
Mohammed Zia weeps at his Kabul home as he talks about his son Azizullah, who was killed by NATO-led troops.
(Jean Chung / For The Times)

بهرنۍ قواوې هرځل په ډیرې بې شرمۍ سره خپل هوائي بریدونه په مختلفو بڼو توجه کوي او ددې پر ځای چې ښښنه وغواړي او دپیښې عاملین محاکمه کړي پړه پر عامو هیوادوال اچوي .
دافغانستان دسولې او خپلواکۍ جبهه نه یوازې داچې دکندهار اوسنۍ بمبارۍ او پر هیوادوالو شوې ټولې بمبارۍ په کلکه غندي او پر برید کونکو نفرین وایي ، له ټولو هیوادوالو څخه غوښتنه کوي چې نور باید دداسې وحشیانه عملونو پر وړاندې خاموش پاتې نه شي او دخپلو ټپونو ددرملنې لپاره خپله متې راونغاړي .
همدارنګه داسلامي هیوادونو دکنفرانس له غړو هیوادو ، دملګرو ملتونو له سرمشریز هیئت او داروپايي اتحادیې له غړو هیوادونو څخه غوښتنه کوي چې پر افغان ولس دکیدونکو ظلمونو دختمولو لپاره غږ پورته کړي.
په داسې حال کې چې دجنګي جرمونو په نړیواله محکمه کې دصربیا او ځینې نورو جنګي مجرمانو دمحکمې خبره کیږي خو بل خوا په افغانستان کې له روانو جنګي جنایاتو او جرمونو سترګې پټیږي او دامریکا پر وړاندې هیڅ لورى هم دحق ویلو توان نه لري.
دکابل لاسپوڅې اداره ددې پرځای چې دائتلافي ځواکونو دا وحشیانه بریدونه وغندي ، هغه ته مختلفې پلمې لټوي او هغه توجیه کوي، دافغانستان دسولې او خپلواکۍ جبهه دله دې ادارې څخه غوښتنه کوي چې خپله بې کفایتي اعلان او له مشران یې له خپلو دندو ګوښه او واک موقتې ادارې ته وسپاري .
بهرنۍ قواوې دې دپیښو مسئولیت پر غاړه واخلي او خپله ماته دې ومني او له افغانستان څخه دې دخپلو پوځونو دوتلو تکل وکړي .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de